مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۲۲/۱۲/۰۷

# سپیڅلې کرکه !؟

(د نفرتونو د تیارو له ډاره - په زړه کې پټ د مینې لمر ګرځوو)

لکه د هرې ورځې په څیر، د لمر وړانګو به د پامیر، تور غر او سپین غر په پراخو ورشو ګانو خپله لمن وغوړوله.

او ماښام به سپوږمۍ د اسمان له ګریوانه سر راپورته کړ؛ په ښوارلسمې شپې به یې د مستي پیغلې په څیر، ځړېټ مخ نیولی او مینانو ته سترګکونه وهل. خو په نهه ویشتمې شپې به د زړې جادوګرې په شان، تړې تم او له سترګو پناه شوه.

شاعرانو به په ځنګل کې خیالي جونګړې او د سیند په غاړه د سپینو شګو څخه محلونه جوړول.

ښکته په اباسین کې، د هندوکش له سپینو واورو څخه را بهیدلو اوبنکو به موجونه وهل.

ښارونکو به په چینارونو او سپینو کوترو د سخي په ګومبز غومبر اچولي وو.

چم په چم د امن سندره وه. د چارګل، اوربل او چپه کاکول خبرې د کلیوالو نقل او پتاسي وې.

جینکو به د چیندرو لوبې کولې؛ پیغلو به له کشمالو څخه منجیلې جوړولې او منګي په سر به ګودرونو ته رهي وې.

ځوانانو به په حجرو کې تر نیمو شپو د سیتار، منګي او رباب نغمې غږولې.

په ټولنې باندې د درې ګوني مثلث (خان، ملک او ملا) راج وو.

بلې، د فقر او بیوزلۍ دسترخوان له واخانه تر زابله او له تورغونډۍ تر تورخم غوړیدلي وو؛ خو د هر چا حد او سرحد معلوم وو.

که کوم سرسبیله او کوڅه ډب به ناغیري وکړه، نو د سپین ږیرو خبره به د کاڼي کرښه وه.

د محراب او منبر تقدس هم خوندي وو. د جمعې په خطبې کې به د المتوکل علی الله، محمد ظاهر شاه نوم په ډیر درنښت سره یادیده او د (السُلطَانُ ظِلُّ الله) مقوله به یې لازمي برخه وه.

موږ ټول په دې باور یو چې د سلطنت دوره هیڅکله هم نمونه ایي او مثالي نه وه. ولې هر افغان خپل ځان د دې واحد ملت د تنستې تار ګڼلو.

خو دریغه دریغه! اول د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په شپږ ویشتم سهار او بیا د ۱۳۵۷ کال د غوایي په اووم ماښام، دغه د مودو مودو تسلسل مات شو او د وینو او باروتو سودا ګرو خپل مارکیټ پرانیست.

کوڅه په کوڅه به، د هورا او تکبیر زمزمې وې. لینن، خمیني او مرحوم حسن البناء زموږ د تاریخي مشرانو، ځای ناستي شول.

په بربې خوا کې د کور، کالي، ډوډۍ، انسان نوین، اخلاق شوروي، مارکسیزم، اشرار او د اخوان الشیاطین شعارونه دومره ستغ وو چې د کنو غوړونه یې هم تخنول. او په کوزې خوا کې ځینې جنابان د بخارۍ، کشمیر، فلسطین او چیچن د آزادلو مستي ځپې لاهو کړي وو.

ناڅاپه، افراطي فکر او اجنبي کلتور، زموږ د ولس ترمنځ د ذوالقرنین دیوالونه هسک کړل.

نفرت دومره غالب شو چې پلار د خپل زوی سینې ته پاپشه ونیوله چې ته ملحد یې او نامراده زوی خپل پلار پولیګون ته حواله کړ چې ته موحد یې.

یواځې د کابل په جګړو کې چې زه یې عیني شاهد یم؛ شپېته زره کابلیان د هوس نذرانه شول.

په همدې نیمې پیړۍ کې، نور قومونه مریخ ته د سفر او د سمندر تل ته د کوزیدو په تکل وو؛ خو موږ د بمونو، غمونو، هجرتونو او شهادتونو د تاریخ فصلونه لیکل.

درویزې، رقص مرده، د سینو غوځول او په لغړو لفظونو باندې د شخصیت وژنې وبا، زموږ په کلتور باندې یرغل راوړ.

افغان، افغانستانی شو؛ د فدرالیزم غوښتنه برملا شوه او دا دې خبره د ایالات متحده خراسان پولو ته ورسیده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د الله په دین او د باورمندو انسانانو په قانون کي، کرکه مطلقا چټلي او یوه روحي ناروغي ده. نو راځئ چي د شعار په ځای، د شعور لاره خپله کړو. راځئ چي اول خپل، راخپل کړو؛ بیا پردیپالو ته په عمل کي ثابته کړو چي کرکه سپیڅلتیا نه لري.
د غوره اخلاقو او رحمت ستر سمبول، حضرت محمد (ص) د خپلي لارې لارویانو ته داسي توصیه کوي: (يَا مَعَاذ، يَسِّرا وَ لَا تُنَفِرا - ای معاذه! ته او ملګری دې له خلکو سره نرمي وکړئ او پام چي کرکه او نفرت خپور نه کړئ).
د نیکمرغی او انساني ارتقاء سفر هلته پیل کیږي؛ کله چي درد په هیلي او کرکه په میني بدله شي. څکه مینه د جلیل او کرکه د قابیل صفت دی. څومره به ښه وي که دا سفر، همدا ګړی پیل کړو؟

---------------------------

پاملرنه: که قدرمند لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي چي د ملکزي نورې لیکني، ځیرني او ویډیوګاني د هغه په فیسبوک، لنکد ان او د یوتیوب په چینل کي ولولي او وګوري. ادرس یې دا دی: Wali Malakzay


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ